


# پښتونخوا

# د ماضي په آئينه کښې

همېش خليل

تقريباً ديارلس کاله پس نن يو ځل بيا د پښتونخوا اسمبلۍ په درووند اکثريت سره د صوبې د نوم د بدلولو (بحالولو) دپاره يو قرارداد منظور کړو. په قرارداد کښې په متفقه توګه د صوبې دپاره د مخکښني قرارداد په شان "پښتونخوا" نوم تجويز شوے دے. وړومبے قرارداد په ۱۳ نومبر ۱۹۹۷ کښې منظور شوے ؤ، هغه وخت د پاکستان وزيراعظم نوازشريف ؤ. د پښتونخوا په نوم د ولي خان او نوازشريف ترمېنځه د سمجوتې په بنياد د مسلم ليګ (ن) او عوامي نېشنل پارټۍ اتحاد شوے ؤ. ولي عېن په موقعه نوازشريف چې نن صدر زرداري صېب ته د خپلو وعدو د پوره کولو په بيا بيا يادونه نۀ ستړے کېږي، هغه وخت د خپلې وعدې نه وتښتېدو.

> کۀ د پاکستان جوړېدو نه پس د دوو اهمو ښارونو لائل پور او منټګمري خپل پخواني نومونه فېصل آباد او ساهيوال بحال کېدے شي نو د صوبه سرحد زرګونه کاله پخوانے نوم چې د ډيورنډلائن د حد بندۍ پورې هم دغه نوم ؤ، په تاريخ کښې محفوظ نوم په بحالولو کښې آخر څۀ خبره خنډ ده؟

نن چې کوم صاحبان د صوبې دپاره د پښتونخوا د نوم نه اندېښمن دي او خامخا د دې نه يوه نسلي او لساني مسئله جوړول غواړي، دوي دا نۀ ګوري چې په خپل ملک کښې د سندھ، بلوچستان او پنجاب مثال زمونږ په وړاندې دے. آيا په دې صوبو کښې واړۀ واړۀ قامونه آباد نۀ دي او دغلته مختلفې ژبې نۀ وئيلې کېږي؟ حالانکې د اخبارونو ريکارډ ګواه دے چې باچا خان د چوک يادګار په يوه جلسه کښې په خپل تقرير کښې په صفا الفاظو کښې وئيلي وو چې "په دې صوبه کښې ټول اوسېدونکي پښتانۀ دي".

زۀ د صوبه سرحد دپاره د پښتونخوا نوم مخالفينو ته د واضحه کولو دپاره عرض کوم چې دا صوبه سرحد څۀ بې نومه صوبه نۀ ده. په پنجاب کښې د شاملولو نه هم مخکښې د دې نوم

پښتونخوا ؤ چې پېرنګيانو د خپلو سياسي مقاصدو د پوره کولو دپاره نۀ صرف د خپل نوم نه محرومه کړه، بلکې د دې ځائے او سېدونکي ئې هم د کمزوري کولو دپاره په څو برخو کښې ووېشل، خو کۀ د پاکستان جوړېدو نه پس د دوو اهمو ښارونو لائل پور او منټګمرۍ خپل پخواني نومونه فېصل آباد او ساهيوال بحال کېدے شي نو د صوبه سرحد زرګونه کاله پخوانے نوم چې د ډيورنډلائن د حد بندۍ پورې هم دغه نوم ؤ، په تاريخ کښې محفوظ نوم په بحالولو کښې آخر څۀ خبره خنډ ده؟

د پښتونخوا نوم مخالفت کوونکو حضراتو ته شايد چې دا خبره معلومه نۀ وي چې د آرياؤ د مقدس کتاب "رګ وېد" په سرودونو کښې چې د کومو قبيلو ذکر دے په هغې کښې "پکتيکان" يعنې د پښتون يا پشتون قبيلې ذکر هم دے. څوک چې تقريباً ۱۴۰۰ قبل مسيح د (کوه سفيد) سپين غر خواؤشا د کُرم، ګومل، سوات، پېښور واديانو، کندهار او د دريائې سندھ د مغربي غاړې پورې ميشته وو او "پکتيکان" يا "پکتا" چې کومه ژبه وئيله وه "پکتا" په مناسبت "پکتو" يعنې "پښتو" يا "پشتو" مشهوره شوه او خپل استوګن ځائے ته ئې د "پکتيکا" يعنې "پښتونخوا" نوم ورکړو. د مشهور يوناني مورخ هيروډوټس مطابق په (پښتونخوا) کښې څلور قبيلې ميشته وې چې د آرياؤ د مقدس کتاب "وېد" د سرودونو د زمانې نه په دې نومونو ميشته وو، د دې څلور قبيلو نومونه دا دي:

۱- ګنداري (Gandari) د ګندهاره اوسېدونکي.

۲-آپارېتي (Aparytae) يعنې اپريدي.

۳-ستاګېدي (Stagyddae) يعنې خټک

٤-دادېکي(Dadicae) د بيليو مطابق اديکي د کاکړ قبيلې اهمه څانګه ده.

يو بل ځائے هيروډوټس څلور سوه قبل مسيح کښې پښتانۀ د "پکتي" يا "پکتين" او "پکتوس" په مختلفو نومونو او د دوي وطن د "پکتيکا" يا "پکت" په نومونو هم ياد کړے دے او يوناني رسم الخط پښتانۀ د "پشت" او د دوي استوګن ځائے په صفا توګه "پختيخا" په نوم يادوي.

دغه رنګ سلېمان ماکو په خپل کتاب "تذکرة الاولياء" کوم چې په ٦١٢هـ کښې ليکلے شوے دے، کښې هم د پښتنو د استوګن ځائے دپاره "پختيخا" نوم استعمال کړے دے.

مغل شهنشاه جلال الدين اکبر ۹٦۳-هـ ۱۰۱٤هـ) په دور کښې اخون درويزه هم په خپل کتاب "مخزن الاسلام" کښې کم نه کم څلور واره دا علاقه د پښتونخوا په نوم ياده کړې ده. بيا خوشحال خان خټک (۱۱۰۰هـ- ۱۰۲۲هـ) هم دا نوم په خپلو شعرونو کښې ياد کړے دے. د هغۀ يو شعر دے:

نوره ټوله پښتونخوا په ځائے مېشته ده
خو يو زۀ دې زمانې په کښې منصور کړم

په قرارداد کښې چونکې د صوبې دپاره صرف يو نوم پښتونخوا تجويز کړے شوے دے، نو ځکه د پښتونخوا په ځائے د بل نوم انتخاب نۀ صرف د قرارداد وړاندې کوونکو سپکاوے دے بلکې قانوناً هم غلطه ده او دا په عدالت کښې چېلنج کېدے هم شي.